مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ لمړۍ | د ۲۰۲۱ د جون ۲۲مه | ۷۳۷مه گڼه

# د حکومت چوپتیا او د ولسوالیو د سقوط دوام؛

## په تېرو دریو ورځو کې د هېواد په گوټ گوټ کې ۲۹ ولسوالۍ د طالبانو لاس ته لوېدلي



۳

حکومتي مشران په واشنگټن کې څه غواړي او له څه سره مخ کېږي؟

۲ مخ

د راتلونکي نظام په اړه پرېکړه د چا حق دی؟

۲ مخ

د وطن د بقا په جگړه کې وروستی انتخاب

۳ مخ

### سیمه‌ییز چارواکي: په پکتیا کې د ماین چاودنې د یوې کورنۍ نهو غړو ته مرگ ژوبله اړولې

د پکتیا سیمه ییز چارواکي وايي، چې په دغه ولایت کې د سړک غاړې ماین چاودنې له امله د یوې کورنۍ پنځه غړي وژل شوي او څلور تنه نور ټپیان شوي دي. د پکتیا ولایت مقام مطبوعاتي دفتر په یوې اعلامیې کې ویلي، چې دغه چاودنه د احمد اباد ولسوالۍ په عطایي کلي کې شوې ده.

په اعلامیه کې ویل شوي چې په چاودنه کې دوه نارینه، دوه ماشومان او یوه ښځه وژل شوې او په ټپیانو کې هم ښځې او ماشومان شامل دي. د چارواکو د معلوماتو په اساس، دغه کسان په یوه جنازه کې د گډون لپاره روان وو چې پر موټر یې چاودنه شوې ده. د پکتیا چارواکو د دغه ماین چاودنې مسوولیت طالبانو اچولی، خو طالبانو تر دا مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي. د چارواکو د معلوماتو په اساس، په افغانستان کې د جگړې له زیاتېدو سره د سړک د غاړې ماین چاودنې هم زیاتې شوي چې ډېری وختونه پکې ملکي خلکو ته مرگ ژوبله اوړي.

تر دې وړاندې تېره شنبه د پکتیا په گاونډ خوست ولایت کې هم د سړک غاړې ماین چاودنې څلور ملکي وگړي وژلي و. د روانې جون میاشتې پر پنځمه هم په بادغیس ولایت کې هم د سړک غاړې ماین چاودنه کې ۱۱ ملکي وگړي ووژل شول.

### نیویارک ټایمز: د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره به افغان پوځ له سختو ننگونو سره مخ شي



۲ مخ

2 017550 139621

## ځېره

۴ مخ



### سید ابراهیم رییسي

ابراهیم رییسي چې د مذهبي مشر بشپړ ملاتړ هم ورسره دی، وتوانېد چې د نږدې ۱۷ میلیونه او ۸۰۰ زره رایو په گټلو سره چې د ټولو کارولو شویو رایو ۷۲ سلنه کېږي، د ایران د نوي ولسمشر په توگه وټاکل شي.

### هوایي چلند اداره: د خوست نوي جوړ شوي هوایي ډگر ته لومړنۍ نړیواله الوتنه ترسره شوه



د ملکي هوایي چلند اداره وایي چې د خوست ولایت نوي جوړ شوي هوایي ډگر ته لومړنۍ نړیواله الوتنه ترسره شوه. د یادې اداري ویاند محمد نعیم صالحي وایي چې نږدې ۹۰ مسافر له متحده عربي اماراتو نه د اریانا افغان هوایي شرکت یوې الوتکې په واسطه د خوست هوایي ډگر ته ولېږدول شول.

نوموړی زیاتوي: «د خوست هوایي ډگر په معیاري ډول جوړ شوی او په پام کې ده چې بهرني هوایي شرکتونه هم په نږدې راتلونکي کې دغه ډگر ته خپلې الوتنې پیل کړي.»

بلخوا د خوست ولایت اوسېدونکو هم د دغه ولایت په هوایي ډگر کې د اریانا افغان هوایي شرکت الوتکې د کښناستو هر کلی وکړ او په دې اړه یې خوښي وښودله.

د یادونې ده چې د خوست ولایت د هوایي ډگر کار په ۱۳۹۰ ز کال کې پیل شوی و او په پام کې ده چې په راتلونکو اونیو کې د ولسمشر غني له خوا په رسمي ډول پرانیستل شي.

### ولسی جرگه: مدیریت جنگ از دست حکومت بیرون شده‌است نیاز به بسیج مردم می باشد



در پی افزایش حمله‌های طالبان و افتادن پی‌هم ولسوالی‌ها بدست این گروه، اعضای ولسی جرگه پیشنهاد می کنند که «شورای عالی مبارزه» ایجاد شود و در ترکیب آن، فرماندهان پرنفوذ پیشین جهادی و نیروهای خیزش مردمی در برابر طالبان بسیج شوند.

به‌گفتهٔ وکلا، مدیریت جنگ از دست حکومت بیرون شده‌است و اکنون نیاز است که مردم در کنار نیروهای امنیتی بسیج شوند. فضل کریم ایماق، نمایندهٔ مردم کندز در ولسی جرگه در این باره گفت: «نیرو موجود بود، مهمات موجود بود، انگیزه موجود بود؛ ولی متأسفانه انگیزه را کُشتند.»

بلقیس روشن، نمایندهٔ مردم فراه در ولسی جرگه نیز اظهار داشت: «از این حکومت کسی بپرسد که شما آنجا چگونه حاکمیت‌می کنید؟»


این در حالیست که بربنیاد آمارها، در کمتر از دو ماه اخیر حدود شصت ولسوالی یا بدست طالبان افتاده‌اند و یا هم ادارهٔ این ولسوالی‌ها میان نیروهای دولتی و طالبان دست‌بدست شده‌است.

شماری از اعضای ولسی جرگه هم انتقاد می‌کنند که حکومت در شرایط کنونی که اجماع برای نجات افغانستان حیاتی است، دست به عزل و نصب‌هایی می‌زند که باعث بی‌ثباتی می‌شود.

اشارهٔ وکلا به عزل‌ونصب‌های اخیر دو وزارت کلیدی دفاع و داخله استند. میررحمان رحمانی، رئیس ولسی جرگه بیان داشت: «افزایش حملات نظامی طالبان، راه‌اندازی جنگ روانی و پیچیده‌گی جنگ روانی موجب نگرانی جدی ما می‌باشد.»

تعمیر فروشی

یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.



+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

سرلیکنه

## حکومتي مشران په واشنګټن کې څه غواړي او له څه سره مخ کېږي؟

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني او د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله واشنګټن ته ور روان دي او هلته به له امریکايي چارواکو سره خبرې کوي. له افغانستان څخه د امریکايي ځواکونو وتل، د سولې پروسه او له افغانستان سره د امریکا د مرستو دوام به د دې خبرو محوري موضوعات وي. که څه هم حکومتي چارواکي دا د اړیکو نوی فصل ګڼي، خو حکومتي مشران به له امریکا وغواړي چې له اوسني حکومت سره مرستو ته دوام ورکړي، پر طالبانو فشار راوړي او پرې نه ږدي چې طالبان د اوس په شان جګړې ته دوام ورکړي او په زور د سیمو د لاندې کولو هڅه وکړي.
خو امریکا د افغانستان د حکومتي مشرانو غوښتنې مني؟
ولسمشر اشرف غني به خو مشخصې غوښتنې ولري. له اوسني حکومت سره د مرستو دوام د اشرف غني لومړۍ غوښتنه ده، خو امریکا په تکرار وایي چې له داسې یو حکومت سره مرستو ته دوام ورکوي، چې د جوړجاړي په پایله کې رامنځ ته شي او د طالبانو په ګډون نور اړخونه هم پکې وي. له همدې امله امریکا تمایل نه لري چې د پخوا په شان له اوسني حکومت سره مرستو ته دوام ورکړي. د اشرف غني بله غوښتنه به دا وي چې د افغان ځواکونو مالي او تجهیزاتي تمویل دوام وکړي. که څه هم امریکا په یو څه بدلون دا کار کوي، خو دا غوښتنه چې په سختو حالتونو کې یې امریکايي ځواکونه هوايي ملاتړ وکړي، نه منل کېدونکې ښکاري. ان دا هم شوني نه ښکاري چې امریکا دې د افغان هوايي ځواک پوره ملاتړ وکړي او په پښو دې یې ودروي. د اشرف غني بله غوښتنه به دا وي چې طالبانو ته سیاسي مشروعیت ور نه کړل شي او د اوسني حکومت انډول یا ترې پورته ونه ګڼل شي، خو داسې نه ښکاري چې امریکا دې د اشرف غني دې غوښتنې ته «هو» ووایي، ځکه چې دوی خپله له طالبانو سره خبرې کړې دي، هوکړه یې ورسره لاسلیک کړې، لیدنې ورسره لري او سیاسي مشروعیت یې ورکړی دی، نو ځکه به اوس بېرته په شاتګ ونه کړي. له بله اړخه د حکومت کمزوري ولسي ملاتړ، په حکومتي ادارو کې پراخ فساد او د سیاسي اجماع نشتوالی هم د دې لامل کېږي، چې امریکا پر اوسني حکومت ډېر حساب ونه کړي. اشرف غني به نورې غوښتنې هم ولري، خو دا به یې لویې غوښتنې وي چې امریکا به یې ونه مني.
امریکا به له اوسنیو چارواکو وغواړي چې واقعیتونه ومني او درک کړي چې نور د امریکا پخوانی مالي او نظامي مرسته ورسره نشته. پر دوی به فشار راوړي چې سیاسي اجماع رامنځته کړي او دوی به د سولې په خبرو کې انعطاف ته هم وهڅوي. له همدې امله په دې سفر کې به حکومتي مشران له سختو فشارونو سره مخ شي او دوی ته به ډېرې سرې کرښې هم را و ایستل شي.
واشنګټن ته ورتلونکي مشران باید درک کړي چې امریکا نور افغانستان ته په پخوانۍ سترګه نه ګوري، له دې هېواده یې ځواکونه وتلي او پاتې هم وځي. امریکا ته نور مهمه نه ده چې طالبان څومره ولسوالۍ او ولایتونه نیسي او دا هم ورته مهمه نه ده چې څومره افغانان مري. له همدې امله دوی باید واقعیتونه درک کړي، هلته هغسې غوښتنې ونه کړي چې نه منل کېږي. دوی باید د پخوا په شان د سولې ضد لابي ونه کړي، جنګ ته کمپاین نور په واشنګټن کې هم شوقیان نه لري، نو ځکه یې باید تمرکز یو سیاسي جوړجاړي ته پر کمپاین او ملاتړ را خپلولو وي. داسې جوړجاړی چې افغانستان پکې وساتل شي، زموږ ارزښتونه پکې وساتل شي او یو ځل بیا موږ له خپلمنځي جګړو سره مخ نه شو.

# د راتلونکي نظام په اړه پرېکړه د چا حق دی؟

هیواد ځاځی

د سولې د خبرو په پیل کې د دواړو متخاصمو ټیمونو په امارت او جمهوریت ویشل یو له هغو عواملو څخه وو، چې په سیستماتیک شکل بهرنیانو د خبرو د ټکني کېدو او د دواړو ټیمونو تر منځ د راتلونکي نظام په نوعیت، جوړښت او بڼه باندې خورا ژور او دوامداره اختلاف ته لار خلاصه کړه. بهرنیانو له یوه اړخه له طالبانو سره د افغانستان د اسلامي امارت په نوم هوکړه لاسلیک کړه، دوی ته یې یو ډول مشروعیت ورکړ، د بریا انګېزه یې ورکړه او له بل پلوه یې افغان حکومت سره د جمهوریت تر چتر لاندې د نظامي او ملکي مرستو د دوام ژمنه د ناټو د سرمنشي او امریکا د دفاع وزیر په ژبه د یوې غونډې په ترځ کې تازه کړه. دا هرڅه هممهاله تر سره کېدل، د افغان سولې په اړوند د امریکا او ملګرو یې نه یوازې دا چې همکاري نه کول ثابتوي، بلکې دوی اصلاً نه غواړي چې افغان جګړه پای ته ورسېږي. که دوی په رښتیا هم د جګړې د پای ته رسولو لپاره کار کولی، نو د سولې پلاوي باید د حکومت او طالبانو په نوم سره ناست وی، اصلي هدف دلته دا و چې له یوې خوا د سولې خبرې اوږدې او حتی له ماتې سره مخ شي خو دوی خپل اهداف او هغه څه چې له طالبانو سره په هوکړه کې نه وو تر لاسه کړي د جګړې په دوام کې تر لاسه کړي او له بل لوري په افغانستان کې په راتلونکي کې د یوه اسلامي نظام له راتګه مخنیوی شوی وي.

دا د افغان سولې بهرنی بعد او لامل دی چې له بده مرغه امریکا جمع ناټو پکې بریالي هم شول، اما ولې د حکومت او طالبانو لخوا د جمهوریت او امارت د تر لاسه کولو لپاره جګړې ادامه پیدا کړه؟ او ایا د نظام د جوړښت او بڼې په اړه یوازې دواړه خواوې پرېکړه کوونکې دي؟ دې پوښتنې ته یوه خوا هم قانع کوونکی ځواب نه لري.

که په نړۍ کې هر ډول نظامونه او دولتونه رامنځ ته کېږي هغه که اسلامي وي که سیکولر او جمهوري، د هغو هیوادونو ملتونه یې په اړه پرېکړه کوي، د ملت د اکثریت رایو پر اساس حکومتونه او د نظامونو ډولونه رامنځته کېږي. نو بناً د افغان جګړې ښکېل اړخونه باید د افغان ولس رایې ته رجوع وکړي او د ملت په رایې رامنځته شوي نظام او حکومت ته غاړه کېږدي څو رواني خونړۍ جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي. یوې داسې عنعنوي لویې جرګې ته دې صلاحیت ورکړل شي، چې د افغانستان له ټولو ولایتونو، ټولو ولسوالیو او کلیو څخه پکې رښتیني دیني علماء، قومي مشران، ځوانان، ښځې، د احزابو استازي، مدني فعالان، حکومت پلوه او طالب پلوه استازي ګډون ولري. دا جرګه دې د ملګرو ملتونو، اسلامي هیوادونو او د سیمې هیوادونو تر نظارت لاندې په افغانستان کې دننه په یوه ولایت کې تر سره شي. د راتلونکي نظام په اړه دې په کلیاتو او جزیاتو بحث او پرېکړې وکړي. پرېکړه دې وشي چې د یادې جرګې پرېکړه به له چون او چرا پرته د عملي کېدو او پلي کېدو وړ وي، چې دواړه لوري به یې په احترام منلو ته چمتو وي. یاده دې وي چې د ملګرو ملتونو، د سیمه ییزو مخالفو او موافقو هیوادونو نظارت به له دې جرګې کاملاً بې طرفه وي، نو ځکه اړتیا ده چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یو له ناظرینو او په سیمه کې هم ټول مخالف او موافق هیوادونه له دې جرګې په بې پرې توګه څارنه وکړي او پرېکړې یې هم الزامي وګڼل شي، څو افغان وژنې ته په اساسي توګه د پای ته رسولو حللاره ولټول شي. داسې یو حکومت دې رامنځته شي چې ټول افغانان پکې خپل ځانونه وګوري، داسې یو حکومت دې رامنځته شي چې په سیمه او نړۍ کې د متوازن سیاست پلوی وي او نور نه د غرب، نه د شرق او نه هم د پاکستان او هند، او نه هم د ایران او امریکا د ګټو د تقابل وسیله وي.

## روغتیا وزارت: په افغانستان کې د کرونا هندي ډوله ویروس په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې دی

په هېواد کې د کرونا ویروس ورځ بلې ته د زیاتو مثبتو پېښو د ثبتېدو ترڅنګ د دغه ویروس د ډولونو د ګواښونو په اړه اندېښنې مخ پر زیاتېدو دي. د روغتیا نړیوال سازمان په نړۍ کې د دغه ویروس بېلابېل ډولونه اعلان کړي.

د عامې روغتیا وزارت وایي، تر دې دمه په ټوله نړۍ کې دغه سازمان چینايي، برازیلي، افریقایي، برېټانوي او هندي ډوله ویروسونه تشخیص کړي دي. د دغه روغتیا وزارت په خبره، که هم څه په افغانستان کې د دغو ویروسونو بېلابېل ډولونه خپاره شوي، خو د دوی د طبي څېړنو له مخې، تر ټولو زیات خلک پر هندي ډوله ویروس اخته شوي دي.

د دغه وزارت چارواکي زیاتوي، که څه هم د ووهان او برېټانوي کرونا ویروسونو ترمنځ په اعراضو او علایمو کې زیات توپیر نه‌شته، خو هندي ډوله ویروس په چټک ډول خپرېږي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند میرویس علیزی وایي: «دا ویروسونه د نښو نښانو او وخامت له اړخه یو څه توپیر لري، د برېټانوي یا الفا ویروس او ووهان ویروس ترمنځ د تبې او ټوخې په فیصدۍ کې لږ توپیر شته، خو د ګواښ له اړخه هندي ډول بیا تر ټولو ګواښوونکی دی، چټک خپرېږي او وخیم حالت لري.»

د علیزي په خبره، په ټوله نړۍ کې په افغانستان کې د کرونا ویروس د خپرېدو له پیله تر اوسه ووهان ویروس زیات خپور شوی او د ډېریو مثبتو پېښو لرونکي کسان هم په همدې ډول اخته شوي دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د ۲۰۲۱ز کال شمېرې ښیي چې په افغانستان کې پر کرونا ویروس تر ټول زیات اخته کسانو عمر له ۲۰ تر ۴۰ کلونو پورې دی. د یاد وزارت چارواکي د دغه ویروس د ډېر خپرېدو یوازینی دلیل د خلکو له لوري د روغتیایي لارښوونو نه‌مراعتول بولي او ټینګار کوي چې باید ټول خلک سپارښتنې په جدي ډول په پام کې وساتي.

## نیویارک ټایمز: د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره به افغان پوځ له سختو ننګونو سره مخ شي



نیویارک ټایمز ورځپاڼې ویلي چې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته به افغان پوځ له سختو ننګونو سره مخ شي. راپور کاږي، یوازې امریکايي ځواکونه نه دي چې له افغانستان څخه وځي، بلکې زرګونه هغه قراردادیان هم وځي، چې له افغان هوايي ځواکونو سره یې مرسته کوله.

ورځپاڼې د یوه افغان پیلوټ له قوله ویلي چې دوی د امریکا ملاتړ ته سخته اړتیا لري او که دغه هېواد خپل ټول قراردادیان له افغانستانه وباسي، د دوی پر چارو به ناوړه اغېز وکړي. ورځپاڼې د امریکا د دفاع وزارت د یو شمېر چارواکو هغو څرګندونو ته په اشارې چې ویلي وو، د امریکایي قراردادیانو له ملاتړ پرته د افغان ځواکونو الوتکې د اغېزمنتوب له اړخه څو میاشتې هم دوام نه شي پیدا کولی؛ نو د امریکایي ځواکونو له وتلو سره به افغان پوځ له ګڼو ننګونو سره مخ شي. د سرچینې په خبره، دا مسئله اوس د بایډن اداري د مهمو بحثونو برخه ده او دوی د دې ستونزې یوه حل لاره دا بولي، هغه قراردادیان چې له خصوصي سکټور سره کار کوي او امریکا یې تمویلوي، له دې وروسته افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

بلخوا ګارډین ورځپاڼې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو په اړه په خپاره کړي راپور کې ویلي، چې له دغه هېواد څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له پیل سره هممهاله جګړو زور اخیستی دی، په داسې حال کې چې د سولې، اوربند او د قدرت د مشارکت په اړه هېڅ توافق نه لیدل کېږي.

په راپور کې وړاندې راغلي، امریکایان هم دې له پام پرته چې د افغانانو راتلونکې به څه ډول کېږي، د خپلو پوځیانو د وتلو هرکلی کوي. راپور کاږي، د افغانستان راتلونکې روښانه نه ده او عام خلک د خپل برخلیک په اړه په هېڅ هم نه پوهېږي. که څه هم ناټو په دې وروستیو کې د افغان ځواکونو د ملاتړ او تمویل ژمنه کړې، خو په دغه راپور کې د کارپوهانو له قوله راغلي، چې دا ډول څرګندونې یو ډول په شاتګ دی.

# د وطن د بقا په جګړه کې وروستی انتخاب

مبین جلالزی

د امریکا په اند تروریزم هغه پدیده ده چې د امریکا ګټې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ګواښي او هر هغه څوک تروریست بلل کېږي، چې د امریکایانو ګټې په خطر کې اچوي. طالبان هم تر هغه پورې تروریستان وو چې القاعده ته یې ځای ورکړی و او هغوی د امریکایانو ګټې ګواښلې، د امریکایانو او طالبانو تر منځ د دوحې له هوکړه‌لیک وروسته هیڅ طالب د امریکا دښمن نه دی، بلکې امریکایانو تل د داسې تروریزم او تروریستانو ملاتړ کړی دی چې ریموټ یې د دوی په لاس کې وي.

د دوحې هوکړه‌لیک داسې لاسلیک شو چې طالبان به د جهاد له نړیوالې داعیې تېرېږي او جګړه به یې یوازې تر افغانستان پورې محدوده وي، له نړیوال تروریزم سره به اړیکې پرې کوي او روان خشونت به کموي، په بدل کې به امریکا د طالبانو جدید اسلامي نظام مني او زمینه به برابروي چې طالبان د افغانستان د موجوده حکومت په رأس کې راشي او د خپلې خوښې جدید اسلامي نظام جوړ کړي.

امریکا ډېر کوښښ وکړ چې ټاکنې ونه شي او د اشرف غني پنځه کلنه دوره د دوو نورو کلونو لپاره وغځوي، یوې خوا ته به د نظام مشروعیت چې په ټاکنو پسې تړلی دی کمزوری شي او بلې خوا ته به د داسې موقت حکومت لپاره زمینه برابره شي چې طالبان یې په رأس کې وي، خو له امریکایانو سره کورنیو او بهرنیو مخالفتونو دغه سناریو ونڅوله، حتی د امریکا په کانګرس کې او نړیوالو متحدانو یې له دې سناریو سره مخالفت وښود.

**امریکایان ولې د افغانستان له موجوده نظامه ستړي شول؟**

له بده بخته باید ووایم چې زموږ سیاسیونو په دې شل کاله کې خپلې ګټې او سیاست د امریکایانو له سیاست سره عیار نه کړل، تل یې شخصي ګټو ته په ملي او نړیوالو ګټو ترجیح ورکړه، نه یې د سیمې سیاست وپېژانده او نه یې پر نړیوال سیاست سر خلاص شو. یوه ډله سیاسیون مو هماغه پخوانۍ تنظیمي پاکستانۍ مهرې وي چې دښمن به یې ښکاره له پاکستانه را روان و، خو دوی به پانګونه په اسلام‌اباد کې کوله، کورونه به یې په پېښور او کویټه کې وو، د خپل دښمن کور یې د ارام بستر و. بله ډله سیاسیون مو د امریکایانو له راتګ سره له غربه راغلي وو، د هغوی ژوند، عیش او نوش ټول په غرب کې وو، ټول افغانستان ته یې د غرب په عینکو کې کتل، نه یې ولس پېژانده او نه د ولس پر نبض پوهېدل، له علم او عقله خلاص وو، یوازې څو ټکي د کوڅې انګلیسې یې زده کړې وه او د وطن له هرې زیربنا سره یې پروژه‌یي برخورد کاوه، هیڅکله پر دې باور نه شول چې دا یې هېواد دی او هېواد په مقطعي ډول نه جوړېږي، په دې منځ کې د ګوتو په شمېر داسې افغانان هم وو چې د امریکایانو وجود یې فرصت باله او د افغانستان د جوړولو لپاره یې ورځ او شپه پر ځان یوه کړې وه، خو د هغوی نقش ډېر لږ و، هیڅکله په تصمیم‌نیونه کې ورته نقش نه دی ورکړل شوی، بله مهمه خبره دا هم وه چې امریکایان هم په منځنۍ اسیا کې د خپلو ګټو خوندیتوب ته راغلي وو، یوازې د افغانستان جوړښت او د تروریزم د له منځه وړلو خبره نه وه. له بده بخته چې له وخت سره سم د هغوی ګټې و نه پېژندل شوې او نه د هغوی له سیاست سره افغانستان خپل سیاست عیار کړ، امریکایان مجبور شول چې پر بدیلو لارو فکر وکړي.

امریکایان اوس هم غواړي چې افغانستان د داسې تروریزم ځاله و اوسي چې ریموټ یې د دوی په لاس کې وي او په منځنۍ اسیا کې چې هر هېواد د امریکا له فرمانه سرغړونه کوي، د جهاد په نامه یې پرې ور مارش او هلته منفجر کړي، له همدې امله له طالبانو سره توافق ته هم ورسېدل او په طالبانو یې د افغانستان د حاکمیت خوب په ویښه ولید، خو مخکې مې اشاره ورته وکړه چې د امریکایانو له دې سناریو سره هیچا هم موافقت ونه کړ، د سیمې په هېوادونو کې یوازې پاکستان له دې سناریو سره موافق دی او امریکایان یې هم ځکه له لاسه نه ورکوي، چې هیڅکله یې د امریکا له اوامرو سرغړونه نه ده کړې، زما یوه نږدې ملګري ویل چې له امریکایي سناتور سره مې د پاکستان په منفي رول بحث وکړ، هغه لنډ راته وویل چې: «هو، پاکستان حرموني دی، خو زموږ حرموني نه دی.»

په پاکستان کې د امریکایي هڅو جوړول هم د همدغې رشتې له مخه رامنځ ته کېږي، که لږ په غور د پاکستان مطبوعات تعقیب کړی، هغوی لګیا دي د امریکایانو ورتګ ته زمینه برابروي، یوه میاشت مخکې به مو د سلیم ساپي مرکه اورېدلې وي چې له افغانستان سره یې خواخوږي کوله او ویل یې چې په افغانستان کې د مسلمان او مسلمان جګړه ده، د پاکستاني مفتیانو لوڅې ویډیوګانې په سوشل میډیا خپرول او نور ملایان پرې ګواښل او همدا رنګه په وروستیو کې د پاکستان د ملایانو فتوا چې په افغانستان کې جګړه ناروا ده، دا ټول هغه څه دي چې که سبا پاکستان امریکایانو ته هډې ورکوي؛ نو اذهان به ورا تر مخه مدیریت وي، هیڅوک به د پاکستان د حکومت او فوج پر خلاف له دې امله وسله نه اوچتوي، چې ولې یې امریکایانو ته هډې ورکړې دي.

طالبان د دې سناریو برخه دي او په غیر شعوري ډول لګیا دي امریکایانو ته کار کوي، خو د افغانستان ولس او لوستی ځوان قشر چې نوی یې له افغانستان سره د مینې پر درشل قدم ایښی او د افغانستان ګټې ورته تر هر څه مهمې ښکاري، هم د طالبانو مخالفت کوي او هم پر حکومت نیوکه کوي او د غلط سیاست مخې ته یې خنډ دي.

زما له ټول ولس په تېره بیا له هغو لوستو ځوانانو چې په دې شل کاله کې هر څه د دوی تر مخ تېر شول، هیله دا ده چې همدغه کمزوری نظام چې د څو غلو او مفسدانو له لاسه ورځ تر بلې کمزوری کېږي، چپه کېدلو ته پرې نږدي.

اشرف غني ډېر بې ځایه مصلحتونه وکړل، ډېر ژمن ځوانان یې له ځانه لرې کړل، په دې حساس وخت کې یې هم مصلحت ته په اهلیت ترجیح ورکړه، ځینې ډېر نا اهله خلک یې پر مهمو دندو وګومارل، خو له دې هر څه سره سره یې څو بنسټي کارونه وکړل چې د افغانستان تاریخ به یې په خپلو پاڼو کې ولیکي.

لومړی: دغه نظام یې د امریکایانو او خلیلزاد په خوښه طالبانو ته ونه سپاره، له امریکایانو او خلیلزاد سره یې د پړي سر داسې ټینګ ونیو چې په وچ زور یې ټاکنې وکړې او تر لمر روښانه ده چې د نظام مشروعیت په ټاکنو پسې تړلی دی، که نه نو امریکایان، زموږ دوه مخي سیاسیون او پاکستانۍ مهرې ټولو په موقت حکومت سلا سره کړې وه او موقت حکومت د موجوده نظام هغه متلاشي ورځ ده چې پنجابیان یې دا شل کاله ارمان کوي او لا هم په هره څلولاره کې د افغانستان حلالي ته په تمه ولاړ دي.

دویم: الکترونیکي تذکرې هغه بنسټي پروژه او چاره ده چې په حکومت او دولت کې ټول سیستمونه په ډېره اسانۍ ورسره شفاف کېدای شي او د افغانستان د پرمختګ لپاره تر ټولو ستر ګام دی، په دې چاره کې چا د قوم، چا د ژبې، چا د سمت او چا د پردیو په اشاره د اشرف غني ټینګ مخالفت وکړ، خو هغه دا ټول مخالفتونه پر ځان ومنل او هیچا ته تسلیم نه شو او د هېواد د پرمختګ لپاره یې دغه بنسټي پروژه نوره هم ګړندۍ کړه.

درېیم: د اوبو د مدیریت خبره یې هم ولس ته ور وپېژندله او هم یې د کمال خان بند له افتتاح سره د میلیونونو افغانانو په سترګو کې د خوشالۍ اوښکې ډنډ کړې.

**پر وطنپاله مشرانو او ځوانانو غږ کوم!**

روانه جګړه د طالب جګړه نه ده، دا د افغانستان له ټیکاو او پرمختګ سره د پاکستان او پنجاب جګړه ده. پاکستان هیڅکله ستا ښه ورځ نه شي لیدلای، اوس خو د پاکستان او افغانستان تر منځ حالات داسې ترینګلي شوي چې ستا مړی هم په خپله هدیره کې نه پرېږدي.

د افغانستان نجات د همدغه کمزوري نظام په بقا کې نغښتی دی، د نظام ړنګول او له منځه وړل او یا یې په یو او بل نامه تضعیفول، له خپل هېواد، ولس او خپلو بچیانو سره ستر ظلم او کبیره ګناه ده.

سمه ده دې نظام به موږ ته ډېر څه نه وي راکړي، خو تر نه نظام زر ځله غوره دی. راځئ چې له خپل وس سره سم د نظام ننګه وکړو او خپل هېواد، ولس او بچیان د کډوالۍ، فقر او نالوستۍ له ذلته وژغورو.

لا هم وخت شته چې موږ د خپلې بقا لارې انتخاب کړو، بیا به د دې ټولو بایلنو پړه یوازې پر یوه یا څو کسانو نه ور اچوو. دا ځل که بیا هم نظام او وطن زموږ له لاسه وځي، هیڅوک هم له ملامتۍ ځان نه شي خلاصولای.

# د حکومت چوپتیا او د ولسوالیو د سقوط دوام؛

## په تېرو دریو ورځو کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ۲۹ ولسوالۍ د طالبانو لاس ته لوېدلې



په هېواد کې د سختو جګړو او د طالبانو لخوا د ولسوالیو د نیولو پر دوام، دې ډلې ویلي چې په تېرو دریو ورځو کې یې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ۲۹ ولسوالۍ له دولتي ځواکونو څخه نیولې دي.

د کندوز خان آباد، امام صاحب، قلعه زال او دشت ارچي؛ د بلخ چمتال، خاص بلخ، کشنده، شولګره، دولت آباد او چهاربولک؛ د جوزجان آقچه، منګجیک، خانقا او فیض آباد؛ د بغلان دوشي او جلګه؛ د تخار خواجه بهاوالدین، درقد، دشت قلعه، چال، نمک آب، ینګي قلعه، خواجه غار او هزار سموچ؛ د لوګر خروار؛ د ارزګان خاص ارزګان؛ د سمنګان دره صوف بالا او پایین او د پکتیا ځاځي اریوب هغه ولسوالۍ دي، چې طالبان یې په تېرو دریو ورځو د نیولو ادعا کوي.

بلخوا حکومتي چارواکي بیا وایي چې افغان ځواکونه هم توانېدلي چې د تخار ینګي قلعه او خواجه غار ولسوالۍ بېرته له طالبانو ونیسي. د ملي دفاع وزارت مرستیال ویاند فواد امان زیاتوي چې دا ولسوالۍ د افغان ځواکونو د عملیاتو په پایله کې نیول شوي او طالبانو ته‌یې درنه مرګ‌ژوبله اړولې ده.

د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مسوولین وایي، چې د لاسه وتلو سیمو د بېرته نیولو لپاره بشپړ پلان شته، خو د پوځي محرمیت له کبله‌یې د وضاحت له ورکولو ډډه کوي. بلخوا په فاریاب او بلخ ولایتونو کې طالبان د ولسوالیو له نیولو وروسته د دغو ولایتونو ښارونو ته نږدې شوي او سرچینې وایي چې اوس د دغو ولایتونو د ښارونو په کمربندي پوستو کې سختې جګړې او نښتې روانې دي. که څه هم په دې وروستیو کې د امنیتي سکټور په رهبرۍ کې بدلونونه راوستل شول، خو حکومت لا هم نه دی توانېدلی چې د جګړو او د ولسوالیو د سقوط مخینوی وکړي.

په همدې حال کې د ملي دفاع وزارت سرپرست او نوماند بسم‌الله محمدي له خلکو غوښتي چې د خپلو امنیتي او دفاعي ځواکونو تر خوا ودرېږي او دوی چمتو دي چې وسلې او تجهیزات ورکړي. محمدي زیاتوي: «زه یو ځل بیا له افغان ځواکونو څخه د خپلو خلکو په ملاتړ ټینګار کوم. له خپلو وطن‌پاله خلکو غواړم، هر چېرې چې اوسي له خپلو ځواکونو ننګه وکړي. افغان حکومت چمتو دی چې له دې ارمان د دفاع په هدف هر ډول اسانتیاوې دوی ته برابرې کړي.»

له دې سره جوخت، د ولسي جرګې غړي په هېواد کې د طالبانو له لوري د ګڼو ولسوالیو نیول د جدي اندېښنې وړ مسئله بللې او امنیتي ادارې او د دغو ادارو رهبري یې پر بې کفایتۍ تورنه کړې.


د ولسي جرګې ګڼو غړو د تېرې ورځې غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال د جګړو او نا امنیو په تړاو د حکومت چوپتیا هم د جدي اندېښنې وړ بللې او وایي چې دې چارې دوی ته ګڼې پوښتنې راولاړې کړي او ولس د ځواب په تمه دی. وکیلان وایي، داسې ښکاري چې د ولسوالیو سقوط یوه معامله ده، نو له همدې امله حکومت هم چوپتیا غوره کړې ده. د دې جرګې غړې بلقیس روشن وایي چې په امنیتي ادارو کې وروستۍ ګومارنې او ادلون بدلون هم د خندا وړ دي او په خبره یې، حکومت یوازې ثابتې شوې او تکراري څېرې چې پخوا یې هم لاس ته راوړنې نه دي لرلې، له یوه ځایه بل ځای ته تبدیلوي او پر نوو څوکیو یې ګوماري. دوی همدا راز له ولسمشر وغوښتل چې ژر تر ژره د سرپرستۍ دود ختم کړي او د امنیتي ادارو لپاره په دې حساسو شرایطو کې وړ او په کار پوه کسان وګوماري.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او اډيتيا سپنها
- ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### د لېونتوب پای




دوراني: ددې پروژې لپاره زما د لېوالتيا د لامل تر شا يو جلا درک موجود دی. له تقاعد څخه راوروسته له ډېرو داسې مسايلو خبر شوی يم، چې بهر خلک يې وايي او دا له هغو اطلاعاتو سره خورا متفاوت دي، چې ما د کار پر مهال ورته لاسرسی درلود. ما هغه منعکسول.
ځينې وختونه دا تفاوت ډېر زيات و او ډېر ځله دغه تفاوتونه د عمدي بدلونو له کبله وو. په دې کې ستونزه نشته، چې خلک يې په کومه بڼه منل غواړي. ما يوازې غوښتل دې ټکي ته اشاره وکړو، چې زما له نظره مسايل همداسې راتلل. د خلکو خوښه، چې مني يې که پرېږدي يې.
سپنها: ښه ده، موږ د خوشبينۍ لپاره د دليل په لټه کې يوو.
دولت: له جنرال صېب سره خبرې او استدلال يو وياړ دی.
دا ډېره ښه خبره ده، چې يو ځای پاتې شوو او د مسايلو په اړه مو خبرې وکړې. يوازينی دليل چې زه په دې کې ښکېل شوم دا دی، چې دا پروسه ماته د هند ـ پاکستان د اړيکو د دويمې پټلۍ په څېر ده. کېدای شي دا يو خوب وي، خو زه پرې باور لرم، څنگه چې واجپای پرې باور درلود چې د هند او پاکستان ترمنځ بايد دا لېونتوب پای ومومي. دا کتاب به په همدې تړاو وي، چې که د هند ـ پاکستان ترمنځ اړيکې پرمختگ وکړي، مسايل به اسانه شي.
موږ د ډېرو موضوعاتو په اړه وغږېدو، خو عمده او اساسي موخه مو دا ده، چې هند او پاکستان بايد په گډه دا درک کړي، چې د يو بل په درک کولو او گډ پوهاوي ته په رسېدو کې يې گټه نغښتې ده. همدا لامل دی، چې موږ د استخباراتي همکاريو چيغې وهو، ډېر وخت مو ورکړ او تمرکز مو پرې وکړ.
همدا يوه عمده موضوع ده. دا د هغو کسانو لپاره څومره مهمه ده، چې تل سره په اړيکه کې وي او خبرې کوي. تاسې راسره موافق ياست ښاغليه؟
دوراني: بلکل. د دغه لېونتوب په اړه دا ټکی شته. غواړم د يوې برخې په اړه درته ووايم.
په ۲۰۱۵ کال کې مو په گډه له حامد انصاري سره اړيکه ونيوه. زه پنځه دقيقې مخکې ورسېدم. له رسېدو سره سم رابانديې سلام واچول شو؛ مرستيال ولسمشر و، چې ډېر ښه او مناسب سړی و.
هغه په همدې جمله پيل وکړ، چې «دا لېونتوب به کله پای ته رسېږي؟» څه يوه ژوره جمله، چې زموږ کتاب ته يې دستور العمل جوړ کړ.
دولت: دا دقيقاً هماغه څه دي، چې ما له پيله تر پايه پرې ټينگار درلود.
سپنها: دولت صېب ستاسې له مباحثې داسې راته ښکاري، چې تاسې غواړئ د هند او پاکستان په خلکو سربېره د کشمير د خلکو لپاره هم يو څه ترسره کړئ؟
دولت: کله چې زه د هند او پاکستان د خلکو يادونه کوم، په هغو کې کشميريان هم شاملېږي. کشمير مې تل په ذهن کې وي، دا په يوه دايمي فکر اوښتی دی. زما د وروستي کتاب موضوع هم همدا وه، چې له خبرو اترو پرته بله لار نشته. له همدې امله کله چې څوک له کشميريانو سره د خبرو لپاره گومارل کېږي، زه خوشالېږم او درناوی ورته کوم. دا ما ته هيلې راښيي.
دا کتاب چې کله له چاپه راووځي، تر ټولو ډېر به کشميريان خوشاله کړي. له استانبول، بنکاک او نيويارک څخه خبرونه ور رسېږي، دوی اوري چې دا دواړه کسان په پرله پسې توگه گوري، نو يو څه خامخا کېدونکي دي، د هند او پاکستان ترمنځ يو څه روان دي. کله چې دوی زموږ دواړو شريک عکس گوري يا اوري، چې موږ يو ځای يوو، خوشالېږي.
هو؛ يو عمده لامل يې دا دی، چې دا کتاب هم د کشميريانو په تړاو دی.
**پـای**

# سيد ابراهيم رييسي

حميدالله حميدي

سيد ابراهيم رييسي د ۱۳۳۹ کال د لندۍ مياشتې په ۲۳مه نېټه د ايران په مشهد ښار کې زېږېدلی دی. هغه د لومړنيو زده کړو له بشپړولو وروسته لوړې زده کړې لومړی په مشهد ښار او وروسته په ۱۳۵۴ کال کې د ايران په قُم ښار کې بشپړې کړې. همدارنگه نوموړي خپلو لوړو زده کړو ته د خصوصي فقې او حقوقو په څانگه کې د شهيد مطهري په عالي مدرسه کې دوام ورکړ او د خپلې دکتورا سند يې د (په فقه او حقوقو کې د اصل او ظاهر تعارض) تر نامه لاندې موضوع سره دفاع کړ. په ۱۳۶۳ کال کې تهران ته لاړ او د ياد ښار د څارنوال په توگه وټاکل شو. هغه په ۱۳۶۷ کال په اوړي کې د ايران د سياسي زندانيانو په ډله ايز اعدام کې د هغوی وضعيت ته د رسيدگۍ د برخې د هيئت غړی و. نوموړی په ۱۳۶۸ کال کې د سيد علي خامنه‌يي د مشرۍ د پيل پر مهال د قضايه قوې د وخت د رييس محمد يزدي په حکم سره د تهران ښار د څارنوال په توگه وټاکل شو. نوموړی په ۱۳۷۳ کال کې د ټول هېواد د څېړنې اداري د رييس په توگه وټاکل شو او تر ۱۳۸۳ کال پورې په همدې پوست کې پر دنده بوخت و. هغه له ۱۳۸۳ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د قضايه قوې مرستيال او له ۱۳۹۳ څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې د ټول هېواد څارنوال و.
سيد ابراهيم رييسي په ۱۳۹٦ کال کې هم د ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند و چې د ۳۸،۳٪ رايو په تر لاسه کولو سره يې د حسن روحاني پر وړاندې ماتې وخوړه، خو د ۱۴۰۰ کال په ولسمشريزو ټاکنو کې يې د تر ټولو لوړو رايو په ترلاسه کولو سره د ايران هېواد د ولسمشر په توگه وټاکل شو. سيد ابراهيم رييسي د متحده ايالاتو لخوا د بشر حقونو د نقض له امله تحريم شوی هم دی.
سيد ابراهيم رييسي د ۱۳۳۹ کال د لندۍ مياشتې په ۲۳مه نېټه د مشهد ښار په نوغان سيمه کې زېږېدلی دی. په سيستان او بلوچستان کې د نوموړي د ټاکنيز کمپاين د رييس په وينا، د سيد ابراهيم رييسي پلار د سيستان سيمې د زابل د دشتک اوسېدونکی و. رييسي پنځه کلن و چې پلار يې مړ شو. نوموړی په ۱۵ کلنۍ کې د قُم ښار په علمي مدرسو کې شامل شو او خپلې زده کړې يې د څلورو فقو او اصولو تر سطحې پورې په حقاني مدرسه کې پر مخ بوتلې.
رييسي په ۱۳۸۰ کال کې د کانکور ازموينې له لارې د شهيد مطهري عالي مدرسې ته بريالی شو او خپلو لوړو زده کړو ته يې همدلته دوام ورکړ، نوموړي له ۱۲ کالو زده کړو وروسته په ۱۳۹۲ کال کې خپل د دکتورا سند د خصوصي فقې او حقوقو په برخه کې له همدې مدرسې څخه ترلاسه کړ. د ابراهيم رييسي د ولسمشريزو کمپاينونو پر مهال د محسن مهر عليزاده په نوم يوه چارواکي ادعا وکړه چې ابراهيم رييسي يوازې تر شپږم ټولگي پورې زده کړې کړې دي او په يادو زده کړو سره نه شي کولای چې هېواد اداره کړي. له يادې ادعا وروسته رسنيو د ابراهيم رييسي د دکتورا سند انځور خپور کړ، خو ځينو کسانو دغه سند جعلي وباله او پر هغه يې نيوکې وکړې. د هغوی په خبره، ابراهيم رييسي د دکتورا سند د اخيستلو پر مهال د هېواد د قضايه قوې د لومړني مرستيال په توگه پر دنده بوخت و. خو په دې منځ کې د قضايه قوې د سلاکارانو مرکز د رييس په څېر ځينو کسانو وويل چې ابراهيم رييسي له اداري کارونو وروسته او له ساعتوارو او ورځنيو رخصتيو څخه په گټې اخيستو خپلې لوړې زده کړې پر مخ بېولې او پر همدې اساس د هغه د دکتورا سند قانوني دی. ويل کېږي چې ابراهيم رييسي پر دې سربېره د نړيوالو خصوصي حقوقو د ماسترۍ سند هم لري.
په ۱۳۵۹ کال کې ابراهيم رييسي چې يوازې ۲۰ کاله عمر يې درلود، د علي قدوسي په حکم سره د کرج د څارنوال په توگه وټاکل شو، نوموړی له څه مودې دندې اجرا کولو وروسته د استان د څارنوال په توگه هم دنده تره کړه، چې په يوه وخت کې يې په دوو ښارونو کې فعاليت کاوه.
سيد ابراهيم رييسي په ۱۳۶۷ کال کې د تهران د څارنوال د ځايناستي په توگه د تهران په استان سيمه کې د سياسي زندانيانو په اعدام کې مسوول دی. نوموړی په ۱۳۶۷ کال کې د سياسي زندانيانو وضعيت ته د رسېدنې د کمېټې غړی و چې د جمهوري اسلامي حکومت مخالفين دغه هيئت ته د مرگ هيئت وايي. دغې کمېټې د زندانيانو د سياسي او مذهبي عقيدو په هکله د څو پوښتنو له طرحه کولو وروسته د هغوی د اعدام يا ژوندي پاتې کېدو لپاره پرېکړه وکړه. حسين علي منتظري وايي چې د ابراهيم رييسي په گډون ځينې نور کسان لکه مرتضی اشراقي (د اوين زندان قاضي)، حسين علي نيري (د تهران قاضي) او مصطفی پور محمدي (د اطلاعاتو وزارت استازی) د سياسي زندانيانو په اعدام کې دخيل وو، چې په ترڅ کې يې څو زره زندانيان د مرصاد له عملياتو وروسته پر خپلو موضع گانو باندې د پاتې کېدو په تور اعدام شول. که څه هم د روح الله خميني په فرمان کې د دوو کسانو نومونه راغلي دي، خو ياد څلور کسان د ايران د زرگونو سياسي زندانيانو د اعدام مسوول دي. د ابراهيم رييسي نوم د ۱۳۹۵ کال په اسد مياشت کې په هغه غږيز پيغام کې واورېدل شو چې حسين علي منتظري ته منسوب و او د ۱۳۶۷ کال د اعدامونو په هکله پکې څرگندونې شوي وې، چې په دې سره د پارلمان رييس علي مطهري نايب له ابراهيم رييسي څخه وغوښتل څو د دې هرڅه په هکله وضاحت ورکړي.
ابراهيم رييسي په دغه کمېسيون کې له خپل شتون څخه انکار کړی او ويلي يې دي چې د ځينو زندانيانو حکم صادر شوی و، خو د ځينو هغو چې حکم يې نه و شوی، د روح الله خميني په امر سره بايد ليدل شوي وای چې ايا ياد زندانيان د حکم د اجرا شرايط لري او که نه.
د ۱۳۹۸ کال په ثور مياشت کې روح الله حسينيان، په اطلاعاتو وزارت کې د تهران قاضي د (رو در رو) په نوم يوې انټرنېټي خپرونې سره په خبرو کې په ۱۳۶۷ کال کې د سياسي زندانيانو په اعدام کې د ابراهيم رييسي د لاس درلودلو د تاييد تر څنگ وويل، چې بايد د نوموړي ستاينه وشي. د اسلامي انقلاب د اسنادو د مرکز رييس روح الله حسينيان د يادې مرکې په يوه برخه کې وويل: «ښاغلی رييس هغه څوک دی چې په ٦۰مه لسيزه کې يې له منافقينو سره په مقابلې کولو د هېواد امنيت ټينگ کړ. خو د دې پر ځای چې د نوموړي ستاينه وشي، ځينو کسانو په ټاکنو کې د نوموړي پر ضد همدا نيوکې يو ځل بيا را څرگندې کړې او له ابراهيم رييسي څخه يې د ستاينې پر ځای نوموړی د سياسي زندانيانو پر اعدام تورن کړ.»
د سيد روح الله خميني له مړينې وروسته او د سيد علي خامنه‌يي د مشرۍ په پيل کېدو سره ابراهيم رييسي د قضايه قوې د رييس محمد يزدي په حکم د تهران د څارنوال په توگه وټاکل شو او له ۱۳٦۸ تر ۱۳۷۳ کال پورې يې ياد مسووليت پر غاړه درلود. له هغه وروسته د هېواد د څار اداري د مشر په توگه وټاکل شو او ياده دنده يې تر ۱۳۸۳ کال پورې پر مخ يوړه.
ابراهيم رييسي له ۱۳۸۳ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د لسو کلونو لپاره د قضايه قوې لومړی مرستيال و او له ۱۳۹۳ څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې هم د هېواد د څارنوال په توگه پر دنده بوخت و. نوموړی همدارنگه له ۱۳۹۱ کال څخه تر اوسه د علي خامنه‌يي په حکم د روحانيت د ځانگړې محکمې د قاضي په توگه هم کار کړی دی.
ابراهيم رييسي د علي خامنه‌يي په حکم د لسو کلونو لپاره د فرمان امام د اجرايوي ډلې د هيئت غړی و، نوموړی د محمود احمدي نژاد لخوا د اطلاعاتو او عدليې وزارتونو د تصدۍ لپاره د يوه وړانديز شوي غړي په توگه د اسلامي شورا مجلس ته معرفي شوی و. نوموړی همدا راز د هېواد د انتخاباتي عالي هيئت غړی او په تهران کې د «فاطمه الزهرا د علميه حوزې» بنسټگر هم تېر شوی. ابراهيم رييسي همدارنگه په هېواد کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر بنسټ د رييس په توگه پاتې شوی.
د ۱۳۹۸ کال د لړم مياشتې په ۱۳مه نېټه، د امريکا متحده ايالاتو د ماليې وزارت د ابراهيم رييسي په گډون هغه ۹ تنه چې د سيد علي خامنه‌يي له نږدې کسانو څخه وو، تحريم کړل. په دغه بيانيه کې د ابراهيم رييسي په اړه راغلي دي چې نوموړی د سيد علي خامنه‌يي له نږدې کسانو څخه دی او نوم يې د بشري حقونو د نقض له موضوع سره تړلی دی. د ۱۳٦۷ کال د اعدامونو په قضايه هيئت کې د ابراهيم رييسي غړيتوب، د نوموړي تر لارښوونې لاندې قضايي ادارو کې له تورنو کسانو سره له ظلم څخه ډک مجازات، غير قانوني نيونې، شکنجې او بد چلند، هغه موارد دي چې په دغې بيانيه کې ورته اشاره شوې ده.
سيد ابراهيم رييسي د ايران د ولسمشرۍ ټاکنو په ۱۳مه دوره کې گډون وکړ او د څو نورو نوماندانو په گډون يې نوماند کېدل تاييد شول. د نوموړي د کمپاين او ټاکنيزو سياليو په لړ کې ځينو شوراگانو لکه د اسلامي انقلاب د پايښت جبهې، د اسلامي انقلاب د ځواکونو د يووالي شورا، د ملي يووالي ائتلاف او داسې نورو له نوموړي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. پر دې سربېره، د زاهدانو د اهل سنت مشر عبدالحميد اسماعيل زي هم د ۱۴۰۰ کال په ولسمشريزو ټاکنو کې له ابراهيم رييسي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. ابراهيم رييسي چې د مذهبي مشر بشپړ ملاتړ هم ورسره دی، وتوانېد چې د نږدې ۱۷ ميليونه او ۸۰۰ زره رايو په گټلو سره چې د ټولو کارولو شويو رايو ۷۲ سلنه کېږي، د ايران د نوي ولسمشر په توگه وټاکل شي. له رايې اچونې درې ورځې مخکې علي رضا زاکاني او سعيد جليلي چې د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان وو، له ټاکنو څخه انصراف اعلان کړ او د ابراهيم رييسي ملاتړ يې وکړ.
د ايران د ولسمشر په توگه د ابراهيم رييس ټاکل کېدو نړيوال غبرگونه هم له ځان سره لرل، چې ځينو موافقت او ځينو نور بيا ور سره مخالفت ښودلی. د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين، ابراهيم رييسي ته د ايران په ټاکنو کې د بريا مبارکي ورکړې ده. نوموړي ويلي، هيله لري چې د ولسمشر په توگه د رييسي له ټاکل کېدو سره د دواړو هېوادونو اړيکې نورې هم پراخې او پياوړې شي. د پاکستان لومړي وزير عمران خان، د عراق ولسمشر برهم صالح او د دغه هېواد لومړي وزير مصطفی کاظمي هم په بېلو پيغامونو کې ابراهيم رييسي ته د ولسمشر کېدو مبارکي ورکړې ده. خو د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوه وياند په خپلو څرگندونو کې ويلي، له بده مرغه د ايران ستره برخه نفوس يو ځل بيا د رايې له حق محروم شو. د وياند په خبره، په ټاکنو کې د خلکو د گډون کچه ټيټه وه او دا د ټاکنو مشروعيت هم تر پوښتنې لاندې راولي. دغه راز د بښنې نړيوال سازمان په يوه اعلاميه کې ويلي، د ايران نوی ولسمشر بايد د جرمونو له کبله تر جنايي تعقيب لاندې راوستل شي. بلخوا اسراييلو هم په ايران کې د ولسمشر په توگه د رييسي ټاکنه غندلې او ويلي يې دي چې دا به د وحشي جلادانو رژيم وي. د اسراييلو نوي لومړي وزير نفتالي بينيت ويلي، چې د نړۍ زبرځواک هېوادونه بايد د رييسي له رژيم سره د نوې اټومي معاملې په اړه خبرې ونه کړي. که څه هم ايران د دغه هېواد د تازه تر سره شويو ټاکنو په اړه نړيوالو غبرگونونو ته په ځواب کې څه نه دي ويلي، خو تر دې وړاندې يې دغه ډول تورونه رد کړي دي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۱۰ |
| € | ۹۳,۵۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۷,۲۰ |

## بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# که په دنده او مسلک کې پرمختګ غواړی، باید دا ټکي پام کې ولرئ

ژباړه: عطامحمد میاخېل

په دنده او کار کې پرمختګ هغه ستره موخه ده، چې هغې ته د رسېدو لپاره باید هڅې وکړئ. که چېرې هوډ لرئ چې (په دنده کې ترفیع اخیستلو) ته د راتلونکي یو کال لپاره د خپلو موخو په لېست کې ځای ورکړئ، موږ یې درته دلته د رسېدو ځینې اسانه او مهمې لارې درښیو.

که چېرې واقعاً غواړئ چې په خپله دنده او مسلک کې مخ پر وړاندې حرکت وکړئ، دا هغه مهارتونه دي چې باید پرې تمرکز وکړئ:

**۱ـ همکاري او تعامل**

که چېرې غواړئ په خپله دنده کې ترفیع وکړئ، نو باید له خپلو شخصي کارونو څخه ډېر په مسلکي کارونو باندې تمرکز وکړئ. دې ته پام وکړئ چې څوک کولای شي له تاسو سره په کارځای کې مرسته وکړي، همکاران مو چې هر څومره ډېر ستاسو تر اغېزې لاندې راشي، نو ډېر احتمال شته، چې رییس مو هم ستاسو د کاري اخلاقو په اړه ډېر څېزونه واوري. په همکارۍ او تعامل کې ستاسو وړتیا، په کار کې ستاسو د توان په کچه، په مستقله او خپلواکه توګه ارزښت لري.

د سازمان دننه د ټیمونو تر منځ همکاري تل د پام وړ ګرځي. په کاري چاپېریال کې تاسو ته د نورو د لید ډول، په دنده کې پر راتلونکې باندې د لا ښه تمرکز لپاره له تاسې سره مرسته کولی شي.

**۲ - د مالکیت حس**

د کار کوونکو لخوا د مالکیت حس لرل، د مدیر لپاره له ډېر ارزښت څخه برخمن دی. مدیران هغو کسانو ته ترفیع ورکوي، چې د خپلو پروژو په اړه د مالکیت حس ولري، په دې مانا هر کار چې اړین وي، د تر سره کولو لپاره یې هڅه کوي، که چېرې اړینه وي ډېر په خپل کار کې پاتې شي، له خلاقیت څخه کار اخلي او د مرستې لپاره له ټولو شته سرچینو څخه ګټه پورته کوي. د مالکیت حس د ګول وهلو لپاره د کار کوونکي له لېوالتیا څخه سرچینه اخلي، پر ځای د دې چې نورو ته توپ پاس کړي.

**۳ - هڅه**

کله چې ستاسو د کاري اخلاقو په اړه بحث را منځته کېږي، موضوع تل د پروژې موخو ته پړاو په پړاو رسېدل نه دي. ځینې مدیران د خپل کارمند هڅو او کوښښونو ته ګوري. ایا کار یې د فردي نظم ښکارندویي کوي او که نه؟ کار یې د تطبیق وړ دی؟ ایا متمرکز او خلاق دی؟ هغه هڅه چې تاسو یې کوی، د رییس لپاره ډېر زیات ارزښت لري.

د هڅې هغه اندازه چې رییس یې له تاسو څخه ګوري، له پړاو په پړاو موخو څخه ډېره ورته مهمه ده. رییسان هغو کارمندانو ته ترفیع ورکوي، چې هره ورځ له ځانه ډېرې زیاتې هڅې ونښیي، حتا هغه افراد چې د نورو په پرتله ډېر کم مهارت لري، په ډېرې هڅې کولو سره په دنده کې د ترفیع اخیستلو لپاره له ډېر زیات چانس څخه برخمن دي.

**۴- باوري اوسېدل**

که چېرې غواړی په خپل شرکت کې پرمختګ وکړی، باید خپل رییس ته دا ونښیئ، چې تل کولای شي په تاسو باندې حساب وکړي.

وخت پېژندنه، د ابتکار عمل لرل، دوستانه چلند او د پرمختګ ښودلو وړتیا هغه کلیدي لاملونه دي، چې مدیران یې د خپلو کارکوونکو د ترفیع لپاره په پام کې نیسي.

**۵- له ماتو څخه زده کړه**

هېڅوک بې عیبه نه دي. موږ ټول خپله دنده او مسلک کې ماتې تجربه کوو، خو له تېروتنو سره ستاسو د چلند ډول کولای شي، په مثبته پایله بدل شي. رییس به مو د وضعیت په بدلولو کې ستاسو وړتیاوو ته پام وکړي.

دا د مدیرانو دنده، چې داسې یوه فضا را منځته کړي چې کار کوونکي د خپلو نویو کارونو د تر سره کولو لپاره وهڅول شي، څو وګوري چې څه پایله ورکوي او که چېرې د پام وړ پایله تر لاسه نه شي، نو هغه ماتې کولای شي د زده کړې لپاره یو غوره سرچینه وي.

**٦ - اغېزمنې خبرې**

اړینه نه ده چې هرومرو په پټه د خپلې دنده دې ترفیع لپاره هڅې وکړئ، په دې اړه فکر وکړئ چې د خپلو موخو په اړه له خپل رییس سره خبرې وکړئ او دېته اشاره وکړئ، چې ولې غواړی ترفیع وکړی. دا کار ستاسو او د رییس تر منځ مو اغېزمنې خبرې اترې رامنځته کوي، چې د دې سبب ګرځي څو دواړه ستاسو د موقعیت په اړه یو شان لیدلوری ولری.




دا چې له خپل رییس سره د خپلو اندېښنو، ستونزو او پوښتنو له شریکولو څخه وېره ونه لری، کولای شي په دنده کې ستاسې پرمختګ کې مهم رول ولري.

**۷ - خودمختاري**

په کار کولو کې په مستقله او خپلواکه توګه ستاسو وړتیا به له تاسو سره مرسته وکړي، چې رییس مو دې ته متوجه شي، چې تاسو څومره په دندو او پروژو باندې د مالکیت حس لری، سمه ده چې نورو ته د ځینو کارونو سپارل به همدا اغېز ولري.

کله چې خپله دنده په خپله تر سره کوی، نو د دې ښکارندویي کوي چې په خپل رول باندې په سمه توګه پوه شوي یاست، د سخت کار او هڅې لپاره چمتووالی لری او ټول په دې باندې پوهوی، چې د دې دندې لپاره یو مناسب او وړ فرد یاست.

**۸ - رښتینولي**

هېڅکله باید په کارځای کې دروغ ونه وایی، رییس مو ستاسو د رښتینولۍ په ارزښت باندې پوهېږي، حتا که چېرې منفي موضوع هم وي. کله چې د کوم کار تر فشار لاندې راشی، نو هڅه وکړئ چې لومړی یوڅه ارام واخلئ او وروسته یې په سم ډول تر سره کړئ. کله چې په کومې موضوع باندې نه پوهېږی، نو هرومرو یې په اړه پوښتنه وکړئ. رښتیني واوسئ، چې تاسو په ټولو مسایلو باندې نه پوهېږی.

**۹ - سخت کار**

په احتمالي توګه له هماغې لومړۍ ورځې رییس مو دا درته روښانه کړې ده، چې څنګه د هغه په ټیم یا په هغه شرکت کې چې کار کوی، بریا ته ورسېږی. که چېرې مو ښه غوږ نیولی وي، نو په ښه توګه پوهېږئ، چې کوم ګامونه پورته کړی او رییس مو کوم مهارتونه خوښوي، که چېرې نه پوهېږی، نو خپلو هغو همکارانو ته پام وکړئ، چې تل د رییس لخوا ستایل کېږي، یا هغو افرادو ته وګورئ چې نوې یې ترفیع کړې ده. په لږ څه سخت کار او په هغو ځانګړو مهارتونو باندې په تمرکز کولو سره کوم چې رییس مو غواړي وې لری، تاسو به هم ډېر ژر دنده کې ترفیع وکړئ.

**۱۰ - خلاقیت**

له محدودې څخه بهر فکر کول ستاسو او همکارانو تر منځ مو توپیر را منځته کوي او مرسته کوي، چې دنده کې د ترفیع پر مهال د خپل مدیر په ذهن کې پاتې شی. مدیران معمولاً هغو کسانو ته ترفیع ورکوي، چې له شته محدودو څخه بهر فکر کوي او بې شمېره لارې چارې رامنځته کوي. دا کسان تل یوه ستونزه مطرح کوي او د دې ستونزې لپاره تل له ځان سره بالقوه حللارې هم لري.

# رییسي: متحده ایالتونه مجبور دي چې پر ایران لګېدلي اقتصادي بندیزونه لیرې کړي



د ایران نوی منتخب ولسمشر ابراهیم رییسي وایي، چې د امریکا د متحده ایالتونو له ولسمشر جو بایډن سره نه ګوري او نه هم د ایران د بالستیک توغندیو د پروګرام او په سیمه کې له ملېشو سره د ایران د ملاتړ په تړاو وسره خبرې کوي.

د ایران د قضایه قوې دغه پخوانی مشر چې سخت دریځه محافظه کار بلل کېږي، په خپل لومړني خبري کنفرانس کې یې وویل چې د امریکا متحده ایالاتونه مجبور دي چې پر ایران لګېدلي اقتصادي بندیزونه لیرې کړي.

که څه هم سپینې ماڼۍ تر اوسه د ایران د نوي منتخب ولسمشر دغو څرګندونو ته په غبرګون کې څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې ویلي وو چې پر ایران یوازې هغه بندیزونه پای ته رسوي، چې دغه هېواد له اټومي پروګرام لاس واخلي او دغه راز د هغو ملېشو له ملاتړ ډډه وکړي چې په سیمه کې امریکایي ګټې ګواښي.

بلخوا د ایران برید کوونکې الوتکې تر ډېره حده هماغه دي، چې د ۱۹۷۹ز کال له اسلامي انقلاب څخه دمخه هغه هېواد درلودې. ایران په سیمه کې د خپلو عربو ګاونډیو سره د سیالۍ په خاطر د بالستیک توغندیو پر پروګرام ډېر کار کړی، چې وخت ناوخته د سیمې د هېوادونو په ګډون د امریکا له نیوکو سره هم مخ شوی دی.

د سعودي عربستان په ګډون د ایران یو شمېر ګاونډیو هېوادونو له امریکا نه د میلیاردونو ډالرو په ارزښت نظامي وسایل اخیستي، خو ایران بیا د سعودي له عربستان او اسراییل سره د سیالۍ لپاره د وسله والو ډلو نه کار اخلي؛ لکه په یمن کې حوثي یاغیان او په لبنان کې د حزب الله وسله واله ډله.

بلخوا د ښځنې نړیوال سازمان یا امنیستي انټرنېشنل ویلي چې د ایران نوی منتخب ولسمشر پر بشریت ضد جرمونو تورن دی او د دې پر ځای چې د دغو جرمونو پوښتنې ترې وشي، هغه په ایران کې جمهور رییس ټاکل کېږي.

پر رییسي تور دی، چې په ۱۹۸۸ز کال کې د څه باندې پنځو زرو کسانو په ډله‌ییز اعدام کې یې لاس درلود، خو په خپله رییسي بیا په خبري کنفرانس کې ځان د بشري حقونو مدافع وباله. د امریکا متحده ایالتونو په همدغه ډله‌ییز اعدام کې د لاس لرلو په تور پر رییسي هم بندیزونه لګولي دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul


سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ لمړۍ | د ۲۰۲۱ د جون ۲۲مه | ۷۳۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٤ | ۳٤ | ۳۹ | ۳٦ | ٤۳ | ۳٥ |
| ۱٥ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۷ | ۲٥ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۶ | مازیګر ۰۴:۵۸ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۶

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ۱۷۹میلیونه او ۳۷۰زره کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۹ میلیونه او ۳۷۰زره او ۸۱۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۸۸۴زره او ۳۷۷ کسان مړه شوي او نږدې ۱٦۴ میلیونه نور تړې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او۴۰٦زره او ۵۹ ته رسېدلي او٦۱۷ زره او۱٦٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۹میلیونه او ۹٦۵ زره او۲۹۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۷ میلیونه او۹۲۷ زره او۹۲۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او۷۵۷ زره او ۳۱۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۳۷۰ زره او۲۹۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، بریتانیا، ارجنټاین، ایټالیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## اروپايي ټولنې د بېلاروس پر يو شمېر چارواکو او ادارو تازه بنديزونه لګولي



د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو وزيرانو د الکساندر لوکاشينکا د کورنۍ د غړو په ګډون د بېلاروس پر يو شمېر چارواکو او ادارو نوي بنديزونه تصويب کړل.

په دغو بنديزونو چې د اروپايي ټولنې په رسمي ژورنال کې خپاره شوي، د پارلمان د غړو، څارنوالانو، قاضيانو او نورو چارواکو په ګډون ۷۱ کسان او ادارې په نښه شوې دي.

اروپايي ټولنې دغه کسان او ادارې پر مدني ټولنې او ډيموکراتيک اپوزېسيون د فشارونو د راوستو په ګډون له بشري حقونو څخه په سرغړونو او د قانون د واکمنۍ پر کمزورۍ کولو تورن کړي دي. په دغو کسانو کې د بېلاروس د اوسني مشر الکساندر لوکاشينکا زوی او يوه نګور هم شامل دي. د دغو نويو بنديزونو له مخې به د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو په بانکونو کې د په نښه شويو افرادو او ادارو شتمنۍ کنګل کېږي او پر سفر به‌يې بنديز لګول کېږي.

د بېلاروس پر خلاف دغه اقدامات د مېنسک له‌خوا د راين اير هوايي شرکت د يوې الوتکې د جبري کېنولو او د اپوزېسيون د يوه فعال رامان پراتاسيويچ د نيولو په عکس‌العمل کې کېږي. تر دې وړاندې د ياد هېواد اپوزېسيون مشرې هم پر لوکاشينکا د بنديزونو د لګېدو غوښتنه کړې ده.

## ارگ: رئیس جمهور غنی با رهبران سیاسی و جهادی نشست مشورتی برگزار کرد




محمداشرف غنی، رئیس جمهور کشور، با رهبران سیاسی و جهادی نشست مشورتی برگزار کرد. در این نشست در مورد سفر رئیس جمهور و عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی، به امریکا و نیز روند صلح و حمایت از نیروهای امنیتی بحث شده است.

این نشست در کاخ چهار چنار ارگ ریاست جمهوری برگزار شده است. عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی، محمدسرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری، میررحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه، حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، عبدرب الرسول سیاف رهبر جهادی، محمد محقق مشاور ارشد رئیس جمهور در امور سیاسی و امنیتی، محمدکریم خلیلی رهبر حزب وحدت اسلامی، اسماعیل‌خان رهبر جهادی، محمدیونس قانون معاون پیشین ریاست جمهوری، عنایت‌الله بابر فرهمند معاون اول شورای عالی مصالحه ملی، فضل‌هاد مسلم‌یار رئیس مشرانو جرگه و شماری دیگر از چهره‌های سیاسی حضور داشته‌اند.

طبق اعلام ارگ ریاست جمهوری، اعضای نشست تاکید کرده‌اند که روند صلح اولویت جمهوری اسلامی افغانستان است و تمام گام‌های بعدی در این روند با تفاهم و اجماع لازمی برداشته خواهد شد. در این نشست تأکید شده است که صف واحد و اجماع قوی سیاسی برای تحکیم صلح و ثبات، استحکام نظام جمهوری و حمایت از نیروهای دفاعی کشور امر حتمی و ضروری است و از حمایت قوی مردمی از نظام جمهوری برای تحکیم ثبات استفاده اعظمی صورت گیرد.


## ژوند

## ون‌پلس ۵جي ځيرک موبايل




ون‌پلس کمپنۍ چې په مناسبه بيه لوړ ځانګړنې لرونکي ځيرک موبايلونه وړاندې کوي، غواړي خپل تر ټولو ارزان بيه ۵جي ځيرک موبايل معرفي کړي. دغه ځيرک موبايل ون‌پلس نورډ اېس۲۰۰ نومول شوی دی. نورډ اېن۲۰۰ به د ون‌پلس کمپنۍ تر ټولو ارزان بيه ۵جي ځيرک موبايل وي او بيه به يې تقريباً ۲۵۰ امريکايي ډالره وي. نورډ اېن۲۰۰ به له ۹۰ هرتز ريفرېش رېټ څخه ملاتړ کوونکي ٦٫۵ انچه اېل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه ولري. دغه موبايل شاتنۍ برخه کې ۳ کامرې لري او د کامرو د ړتيا په اړه يې څه نه دي ويل شوي. د دغه ځيرک موبايل نورو ځانګړنو او خرڅلاو ته د وړاندې کېدو نېټې په اړه معلومات نه دي ورکړل شوي، خو دغه ځيرک موبايل به د سامسُنګ ګلکسي اې۲۲ يا اې۳۲ او د ريالمي مي۸ سره د رقابت لپاره خرڅلاو ته وړاندې شي.

## کرونا ناروغي او پر حافظه يې اغېز



د کرونا ويروس په سبب ډېر وخت اغېزمن کسان د بويولو له حس څخه شکايت لري او ځينې خو بيا دا هم وايي چې دوی يو ډول بد بوی حس کوي، چې دې کيفيت ته (پيروسميا) يا (اولفيکټرې هيلوسينيشنز) ويل کېږي او پر دې کيفيت اخته کسان د ژور خپګان ښکار ګرځيدلی شي. د سيديتي ورځپاڼې د سايکالوژۍ ټوډي ويبپاڼې په حواله ليکلي چې د حافظې له لاسه ورکولو په سبب احساسات او خاطرې هم زيانمنې کېږي، چې په ځانګړې توګه اوږدمهاله حافظه زيانمنوي. د دماغ په مخکينۍ برخه کې د اولفيکټرې په مرسته خوشبو پېژندل کېږي او له دې ځايه خوشبويي د دماغ هغې برخې ته ځي چې له احساساتو او حافظې سره تړاو لري، همدا سبب دی کله چې يو څوک ځانګړې خوشبويي حس کړي، نو ځينې خاطرې ور په زړه شي. له يوې څېړنې څخه معلومه شوې چې د بويولو د حس او خپګان تر منځ اړيکه شته، ځکه چې د بويولو حس له لاسه ورکول د خپګان احساسات تېزوي او خپګان د بويولو له حس څخه د محروميې په سبب رامنځته کېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډیرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
عزیزي بانک
Azizi Bank
1515
www.azizibank.af